ډاکترعبدالرحمن زماني

د ۲۰۲۰ کال د جون ۲۲مه

# د يوه افغان لخوا د پاکستان د لومړني صدراعظم د وژل کيدو د معما په هکله: لسمه او وروستنۍ برخه – د لياقت علي خان د وژلو انګيزه څه وه؟

د ۱۹۵۱ م کال د اکتوبر د مياشتي په شپاړسمه (۱۲) نيټه، د پاکستان لومړني صدراعظم او د پاکستان د مسلم ليګ ګوند مشر لياقت علي خان د يوه افغان سيد اکبر خان ببرکزي ځدراڼ لخوا د تومانچې په دوو ډزو هغه وخت ووژل شو، کله چې هغه د راولپنډۍ په کمپني باغ کې د مسلم ليګ ګوند يوې ستري عامې غونډې ته خپله وينا پيل کړه.

سيد اکبر خان ببرکزی د **غازي ببرک خان ځدراڼ د نهو (۹ ) زامنو ترټولو کشرزوی و چې په ۱۲۹۹** هجري شمسي ۱۹۲۰/ ميلادي کال کې د خوست د نادرشاه کوټ د ګيډوري په کلي کې زيږيدلی و. هغه د خپلې کورنۍ د نورو غړو سره د خانداني حکومت لخوا د يوې دسيسې او وروسته پوځي ځمکني او هوايي قواوو د حملو په نتيجه کې د خپل کور کلي پريښودو ته مجبور او بيا د خپل قام ترمنځ د جګړې او ورور وژنې د دوام د مخنيوي په مقصد د ۱۹۴۴ کال د اپريل په مياشت کې وزيرستان ته لاړ.



دغه تومانچه د ۱۹۵۱ کال د اکتوبر په ۱۲مه د راولپنډۍ کمپني باغ کې د لياقت علی خان د وژلو لپاره کارول شوی وه. دا تومانچه او د ښار په پوليس سټېشن کې د پيښې لومړني (نمبر ۲۴۲۴۲۴) ثبت شوې رپوټ دواړه د پاکستان په پوځي موزيم کې ننداري ته ايښودل شوي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سید اکبر خان بیا په وزیرستان کې د دړي کاله اوسیدو نه وروسته د ۱۹۴۷ کال د جنوري په میاشت کې په داسې حال کې د خپل یوه ورور زمرک خان ببرکزي سره بریتانوي هند ته لاړ، چې یو ورور یې ډګروال مامون خان د څه وخت دپاره په میرانشاه کې پاتې شو او د بل ورور شیرمحمد خان ببرکزي په ګډون د کورنۍ نور غړي یې د پاچا محمد ظاهرشاه او د هغه د تره، صدراعظم شاه محمود خان، په بلنو او وعدو بیرته افغانستان ته ستانه شول او هلته تر ډیرې مودې نظربند وساتل شول.

په بریتانوي هند کې زمرک خان او سید اکبر خان ته سیاسي پناه ورکړ شوه. دوې ته د اوسیدو دپاره کورونه او مستمري تنخواه (مدد معاش) وټاکل شو، خو په دوې ومنل شوه چې د حکومت د رسمي اجازې نه پرته به د ایبټ آباد نه د وتلو حق نه لري. دا دوه ورونه د پاکستان تر جوړیدو وروسته هم په ایبټ آباد کې اوسیدل او مامون خان هم ورسره یو ځای شو.

## د لیاقت علي خان د وژلو انګیزه څه وه؟

د لیاقت علیخان د وژل کیدو انګیزه لا تر اوسه هم یوه معما ده. که څه هم د دغه وژنې د علت یا علتونو په هکله بیلابیلې فرضیې موجودې او خطا رسا لیکنې شوې دي، خو زیاته برخه یې پرته له کره اسنادو وړاندې شوي او د سازش او توطئو پر نظریاتو ولاړې دي. د نظریاتو په لړ کې یوه دا هم ده چې سید اکبر خان خو له سره د لیاقت علی خان وژونکي نه ؤ.

ځینې لیکنې بیا حتی ډیرې مضحکه او د خندا وړ هم دي. د مثال په ډول عبدالمجید عابد د ۲۰۱۵ کال د اپریل په ۲۴ مه نیټه د Friday Times په اونیزه کې د لیاقت علیخان د وژنې تر عنوان لاندې لیکي چې «د متحده ایالاتو پاچا [؟] د افغانستان پاچا ته ټلیفون وکړ او یو پلان یې جوړ کړ. سید اکبر او دوه نور استخباراتي چارواکي په راولپنډۍ کې د لیاقت علي د وژنې د دندې تر سره کولو ته وګمارل شول. د امریکا متحده ایالات دې وژنې ته د یوه سني مسلمان په لټه کې و، تر څو له تورونو څخه ځان لرې وساتي (په هغه وخت کې د متحده ایالاتو د نفوس نیمایې څخه ډیر شیعه وو [؟])»[1]. یا دا چې ګوندې د لیاقت علي خان د وژلو توطئه او دسیسه د امریکې د استخباراتي اداري لخوا جوړه شوې وه، او د لیاقت علي خان وژنه په اصل کې د سید اکبر خان لخوا تر سره شوې نه ده، بلکې د بې پیلوټه الوتکو یو نوی ماډل د دې وژنې لپاره وکارول شو. ځکه چې ګواکې د لیاقت علي له مړینې څو ورځې مخکې، امریکایي چارواکو غوښتل د پاکستان په شمالي سیمو کې د HAARP سیستم یا لوړې فریکوینسۍ د فعال اورال د څېړنې پروګرام د ازمېښت لپاره اجازه ترلاسه کړي، خو دغه غوښتنه رد کړای شوه. د لومړي وزیر د مړي څخه ترلاسه شوي یا موندل شوي کارتوس هم هغه ډول وو کوم چې په متحده ایالاتو کې په سفارش جوړیږي.[2]

---

[1] . https://www.thefridaytimes.com/killing-liaquat-ali-khan/

[2] . HAARP، د الاسکا په ایالت کې د امریکې د هوائي پوځ یوه لانجه منه څېړنیزه پروژه وه، چې په پورتنۍ اتموسفیر کې یې یوه ځواکمنه او فعاله سیمه مطالعه کوله. د ویزوېلا د مشر د ادعا مطابق د هیټي د هیواد زلزله د همدې پروژې د آزمېښت له امله منځ ته راغله.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خیر و لولئ

د وژني د انګیزو په هکله اکثره لیکنې د اسنادو پر ځای د دسیسو پر تیوریو ولاړې دي، چې یو څو یې په لاندې ډول دي:

1. د امریکې توطئه: د عرب نیوز Arab News د ورځپاڼې د ۲۰۰۷ کال د جولای د اتلسمې نیټې په ګڼه 3 کې سید رشید حسین د امریکې د یوه محرمانه ریوټ په حواله چې اوس څرګند شوی دئ، تور لګوي چې د لیاقت علي خان په وژنه کې د امریکې لاس ؤ. د هغه د نظریې په اساس، د نوي ډیلي څخه د امریکې د سفارت د هغه ټلګرام څخه دا راز څرګند شوې چې د ۱۹۵۱ کال د اکتوبر په ۲۴مه نیټه استول شوې دئ. مضمون بیا د ندیم په مقالې کې راپورته شوي حقایقو[؟] ته اشاره کوي ، چې دا نه یوه سیمه ایزه پیښه وه او نه د پښتونستان غورځنګ سره تړلې وه (لکه څنګه چې ځینې بیا پدې باور دي). د دې تر شا یو ژور سازش او پیژندل شوې لاس و. خود ای ایف پی د نړیوالې خبر رسونې ایجنسۍ د حقایقو معلومولو ریوټ بیا د ټایمز آف اسلام آباد دغه ریوټ دروغ بولي او لیکي چې د "سی آی ای" لخوا د پاکستان د صدراعظم د وژلو په هکله د امریکې د باندینیو چارو د وزارت هیڅ کوم بربنډ شوې ریوټ نشته.




---

3 . https://www.arabnews.com/node/287940


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

2. د افغانستان د حکومت توطئه: څرنګه چې د افغانستان او پاکستان مناسبات د پاکستان تر جوړېدو وروسته د پښتونستان د مسئلې پر سر ډېر خراب او له تشنجه ډک وو، نو د توطئو او دسیسو د تیوریو یوه بله برخه افغانستان ته ګوته نیسي.

3. د افغانستان او امریکې ګډه توطئه: ددې نظریې خاوندان بیا وایي چې د امریکې لخوا طرحه شوې دسیسه د افغانستان په مرسته او خبرتیا عملي شوې ده. دغه نظریه د امریکې دمتحده ایالاتو او انګلستان لخوا د پاکستان د صدراعظم د احتمالي له منځه وړلو په عواملو بحث کوي او لیکي چې لیاقت علیخان چمتو نه و، څو د امریکې د متحده ایالاتو تګلاره پلي کړي. په داسي حال کې چې انګلستان لیاقت علیخان دې ته هڅولو چې د ایران په مسئله کې له دوی سره مرسته وکړي، او پر ایران خپل نفوذ وکاروي تر څو د خپلو تیلو د ذخیرو کنټرول امریکایانو ته وسپاري، ځکه چې تیل امریکایانو ته یوه ستره ستونزه ګرځیدلي وه. کله چې لیاقت علي خان د امریکایانو غوښتنې رد کړې، نو هغوې د کشمیر په هکله د امریکا او پاکستان ترمنځ د پټ تړون د لغوه کولو ګواښ وکړو. لیاقت علي په ځواب کې ویلي و چې پاکستان د امریکایانو د مرستې او همکارۍ پرته نیم کشمیر له ځانه سره ضمیمه کړې دی، دوی کولي شي نیم نور هم اشغال کړي. پر دې سربېره لیاقت علي خان و غوښتل چې امریکا په پاکستان کې هوایي پوځۍ اډې خوشې کړي. د لیاقت علي خان غوښتنه د واشنګټن لپاره یو بمي وار و. امریکایانو ته د شوروي په وړاندې په پاکستان کې د خپل هوايي ځواک درلودلو ډېر اهمیت درلود. بیا د امریکې جمهور رئیس هری ترومن Harry S. Truman صدراعظم ته د وخیمو پایلو اخطار ورکړ.

[د اسلام آباد ټایمز د ۲۰۱۷ کال د جولای په میاشت کې یوه مقاله خپره کړه](https://web.archive.org/web/20180816192403/https://timesofislamabad.com/31-Jul-2017/cia-assassinated-pakistan-first-pm-liaqat-ali-khan-reveals-us-state-department-documents) او د Pakistan Today د ریوټ په حواله یې ولیکل چې امریکایان ډېر په قهر او حیران شول، نو ځکه یې غوښتل چې لیاقت علي خان ووژني، خو دوې د بین المللي ستونزو د مخنیوي دپاره دا کار د یوه مسلمان په لاس تر سره کول غوښتل. خو دوې په پاکستان کې څوک پیدا نکړل، بیا یې افغانستان ته مخه کړه. د افغانستان د پاچا حکومت ورته د سید اکبر په نامه یو کس پیدا کړ، او بیا یې د هغې د وژلو ترتیبات هم ونیول. د یوې لیکنې په اساس دغه کس د پښتنو له مشرانو سره د اړیکو او تماس په نیولو سره پیدا شو. لیاقت علي د دوی ترمنځ یوازیني خنډ بلل کیده. امریکایانو په بدل کې پښتنو ته ډاډ ورکړو چې که د دوی یو څوک لیاقت علي ووژني، امریکا به د ۱۹۵۲ کال د پښتونستان د جوړېدو دنده په غاړه واخلي [4]

4. پښتنو ته د توهین او د کشمیر مسئله: د یوه هندوستاني لیکوال له نظره د لیاقت علیخان وژني د کشمیر او پښتنو په هکله د هغه د پالیسیو سره تړاو درلود.

[4] . https://web.archive.org/web/20180816192403/https://timesofislamabad.com/31-Jul-2017/cia-assassinated-pakistan-first-pm-liaqat-ali-khan-reveals-us-state-department-documents


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پاکستان د خپلواکۍ نه څو اونۍ وروسته د وزیرستان څخه د ولسي لښکر په جوړولو سره له هندوستان څخه د کشمیر د نیولو لپاره د ۱۹۴۷-۴۸ کال لومړۍ جګړه پیل کړه. د جمو او کشمیر پر سر دا جګړه کله ناکله د کشمیر د لومړني جنګ په نامه هم یادېږي.

## د امریکې د آرشیفونو په استناد د مشهور څېړونکي لیون پولادا نظریه

د افغانستان په هکله د دوو مهمو کتابونو («په افغانستان کې اصلاحات او اغتشاشات» او «کشور شاهی افغانستان و ایالات متحده») لیکوال لیون پولادا د افغانستان په هکله هغه څېړونکي دي چې د امریکې په ملي آرشیفونو کې یې تر نورو ټولو څېړونکو زیات مواد کتلي دي. هغه د لیاقت علي خان د وژلو په هکله د کشور شاهی افغانستان و ایالات متحده په کتاب کې د افغانستان او پاکستان د مناسباتو په خرابیدو او د پښتونستان د ستونزې په سر د دواړو هیوادو ترمنځ د کړکیچ په کمولو کې د نږدې ختیځ او منځنۍ ایشیا د پاره د امریکې د باندنیو چارو د وزارت د مرستیال جورج سی مک ګې Gorge C Mcghee د منځګړیتوب او هلو ځلو تفصیلي معلومات ورکړي دي. هغه لیکي چې «د لیاقت له لوري د پاکستان د ورکړ شوو ژمنو په اړه د مک ګي تمه بې نتیجې پاتې شوه. کله چې هغه بیا بیا د پرلپسې یادونو سره سره له پاکستاني لوري کوم ځواب تر لاسه نه کړ، نو په پای کې یې د اکتوبر په میاشت کې تمه غوځه او دواړو هیوادو ته خبر ورکړ چې امریکه په خپلو نیکو کوښښونو کې ناکامه شوې ده، او پر خپلو وړاندیزونو سترګې پټوي؛ څو ورځې وروسته لیاقت علي خان د یوه افغان په لاس ووژل شو، کوم چې سمدلاسه د لیاقت د ساتونکو لخوا ووژل شو. دا چې په دې ډرامه کې به د افغانستان حکومت څه رول لوبولی وي، او هغه هم که کوم داسې رول شتون ولري – پټ پاتې شوي دئ. خو د پاکستان څېرنې او ډېر کارپوهان توافق لري چې دا سانحه د یوه ځانګړي نا راضي کس کار ؤ»[5].

## په پاکستان کې د پیښې د څېړنې د کمیسیون موندنې

د ۱۹۵۱ کال د نومبر په لومړۍ نیټه د پاکستان حکومت د لیاقت علي خان د وژل کیدو د پیښې د څېړلو د پاره یو کمیسیون وټاکلو چې مشري یې قاضي محمد منیر ؤ. دغه کمیسیون (۳۸) اته دیرش غونډې درلودې چې ۲۳ یې په لاهور او پنځلس یې راولپنډۍ کې تر سره شوې. دغه کمیسیون د ۸۹ عیني شاهدانو د تحقیق او اسنادو د ثبتولو نه وروسته تحقیقات پای ته ورسول. د کمیسیون د څېړنو پایلو دریو توطئو یا سازشونو ته ګوته نیوله. د کمیسیون د دوو دسیسو په هکله ګرګندونې څکه نه کوي چې د دوې په عقیده د هغو ګرګندول ملي ګټو ته زیان رسوي او د سید اکبر سره هم کوم تړاو او ارتباط نه لري. دریمه د سیسه په سید اکبر پوري مربوطه وه، په چا چې د لیاقت علي خان د وژلو تور لګیدلی و.

---

[5] . پولادا، لیون او لیلا (۲۰۰۶). کشور شاهی افغانستان و ایالات متحده از سال ۱۸۲۸ تا ۱۹۷۳، ۱۸۰-۱۸۲ مخونه (د امریکې د خارجه چارو د وزارت د ستراتیژیکو څېړنو مرکز) د صفدر پنجشیري ژباړه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

کمیسیون درې احتمالي انګیزې وڅېړلې د کومو له کبله چې شاید سید اکبر لومړي وزیر وژلي وي ، خو دوې ونشو کړای په بشپړ ډاډ سره پوه شي چې د هغه په مغزو کې څه ګرځیدل. دغه احتمالي انګیزې په لاندې ډول وی:

1. دا چې هغه د دماغي ناروغتیا له امله دا کار تر سره کړي وي
2. دا چې هغه د لیاقت علیخان د کشمیر د پالیسۍ له امله، چې د هند په وړاندې یې جګړه نه غوښته، خپه و
3. دا چې هغه دغه وژنه د مذهبي سخت دریځۍ له امله کړې وي.

د عیني شاهدانو د تحقیقاتو ، او شواهدو او اسنادو تر بشپړې څېړنې وروسته کمیسیون ومنله چې د لومړي وزیر لیاقت علیخان وژنه نه دلیونتوب نتیجه وه او نه هم د مذهبي افراطیت له امله. دا عمل د سید اکبر کوم انفرادي عمل هم نه و، او باید د حکومت د بدلولو په مقصد د یوې دسیسې پایله وي.



د ۱۹۴۸ کال د کشمیر په شخړه کې د پاکستان د پوځ یو بریګډیر په پښتنو قبایلي جنګیالیو وسلې وویشلې.

سید محمد ذوالقرنین د اسلام آباد د فدرالي حکومتي کالج متقاعد پروفیسر د «صدراعظم لیاقت علی خان د وژلو سرنوشت ساز سفر» په مضمون کې لیکي چې که مونږ د کمیسیون نظریه ومنو چې «وژنه د سید اکبر انفرادي عمل نه و او دا باید د حکومت د بدلون د یوې دسیسې پایله وي»، نو بیا یوه ډیره اړونده او اړینه پوښتنه راپورته کیږي چې د حکومت ددې بدلون ګټه اخیستونکي څوک وو؟

په هر حالت کې، سید اکبر، په وژنې تورن، خو د پاکستان تبعه نه و بلکې بهرني او فراري سړی و. هغه نه کومه سیاسي جرګه درلوده او نه یې له کومې ډلې یا سیاسي ګوند سره اړیکې درلودې. د ګټې اخیستونکي پر ځای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

هغه خپل ژوند له لاسه ورکړ او په مرګ محکوم یو سړی و. بیا ، ایا هغه د کومې توطئې په جال کې نیول شوی و ؟ او که و ، نو مونږ بیا د حقیقت موندلو ته اړتیا لرو.[6]

د لیاقت علي خان د وژل کیدو د پیښې د څیړنې د کمیسیون د موندنو د مبهمو او په لویه کچه بې معنی پایلو ته په غبرګون کې بیګم رعنا لیاقت علیخان، د لیاقت علیخان میرمن وویل چې د حکومت لخوا د دې انتصابي کمیسیون ټاکل یوه عمدي یا غیر عمدي تیروتنه وه.

څرنګه چې د پاکستان د حکومت په ادعا د مکملو تحقیقاتو دوسیه د انتقال په وخت کې د الوتکې د سقوط له امله سوځول شوې او له منځه تللې ده، او یا هم ښایي د مسلم لیګ د داخلي ګوندي اسرارو د پټ ساتلو له امله له منځه تللې او یا حفظ شوې وي، یوه بله پوښتنه رامنځ ته کوي چې آیا سید اکبر خان په رښتیا هم د لیاقت علی خان وژونکې ؤ ، او یا د اصلي قاتل او دسیسه جوړونکو د پټ ساتلو دپاره یو بې ګناه د قربانۍ ګډوری ؟

**د افغانستان د حکومت دریځ**

د افغانستان د خانداني حکومت دریځ پدې هکله دوه مخې او له منافقته ډک یو دریځ و. دوی له یوې خوا په راډیو او ورځپاڼو کې دا وژنه غندلې، او د پاکستان حکومت ته یې د خواخوږۍ پیغامونه استولي، او په کابل کې یې د لیاقت علي خان د فاتحې د پاره مراسم ترسره کړي. د بریتانوي هند آرشیف کې د موجودو اسنادو له مخې لیدل کیږي چې «پاچا او لومړي وزیر کراچۍ او مطبوعاتو ته د خواخوږۍ پیغام استولی او ... لومړي وزیر په صدارت کې خپل رسمي جومات د دري ورځو فاتحې دپاره استعمال کړې دئ». دکابل نه د بریتانیا د سفارت په استول شوي رپوټ کې راغلي «کله چې د دې سفارت مامورین په ۱۸مه نیټه د فاتحې په لومړۍ ورځ ورسیدو ، نو په هماغه وخت د عبدالهادي داوي په مشرۍ د پارلمان شاوخوا (۲۸) اته ویشت غړو یو پلاوي هم راورسیدو.

دننه موږ د مشرانو جرګې رئیس او دوه وزیران او همدارنګه یو شمیر نور افغان شخصیتونه ولیدل. تر هغې سمدلاسه وروسته صدراعظم او دوه نور وزیران راغلل او پرته له شکه چې نور وزیران او مخور به هم راشي. د جومات نه د وتلو پر مهال، لومړي وزیر د پاکستان د شارژدافیر سره په مهربانۍ خبرې وکړې» .[7]

په خصوصي ډول ، د لیاقت علي خان تر وژنې وروسته ، په کابل کې لوړپوړو چارواکو د سید اکبر خان مشرورور شیرمحمد خان سره د شپې په پټه اړیکه ونیوله او له هغه سره یې خپله خواشیني څرګنده کړه او هغه ته یې د فاتحې او ختم د مصارفو د پاره د هغه [۱۹۵۱] وخت شپاړس زره افغانۍ ورکړې.

لاندني اسناد هم ددې خبرې پخلې کوي:

---

[6] . The Assassination of the Prime Minister Liaquat Ali Khan, Pakistan Journal of History and Culture, Vol.XXXI, No.1, 2010 n (د پاکستان د تاریخ او کلچر د ژورنال No.1, 2010 ګڼه)

7 . د ښاغلي فاروق ببرکزي نه په منڼې چې د Afghanistan Strategic Intelligence: British Records1948-1970 دا یو رفرنس یې ما سره سریک کړې دئ .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- د نیویارک ټایمز ورځپاڼې د رپوټ په اساس خانداني حکومت له یوې خوا د لیاقت علیخان د وژل کیدو د پیښې وروسته سمدلاسه ادعا وکړه چې سید اکبر خان د خپل ملت سره د دښمنانه فعالیتونو له امله د افغان تابعیت څخه بې برخې شوې دئ، له دې امله بریتانوي چارواکو هغه ته په صوبه سرحد کې پناه ورکړې وه ، او د بریتانوي هند او بیا وروسته پاکستان له لوري هغه ته یوه اندازه معاش هم ټاکل شوې و.


سید اکبر خان ببرکزی

- د کور دننه حکومت یو خو د ده ورونو ته خبر ورکړ چې دوی په جوماتونو کې د سید اکبر خان ببرکزي فاتحه نشي اخیستلای، او د هیواد ټول مطبوعات یې هم د هغه د مړینې دخبر د نشرولو نه منع کړل.8

## د افغانستان د خلکو غبرګون

د افغانستان د حکومت په خلاف چې د پاکستاني چارواکو سره یې خواخوږي ښکنده کړه، په عامه توګه عادي افغانانو کې د لیاقت علي خان وژنه د ډیرې خوښۍ سبب شوه. د لیاقت علی خان او سید اکبر خان په هکله هم په پاکستان او هم په افغانستان کې متقابل یا سرچپه غبرګون ښودل کیږي . لیاقت علي خان که په پاکستان کې د "ملت د شهید " په توګه وپیژندل شو، خو په افغانستان کې هغه د افغانانو ضد یو سیاستمدار ګڼل کیدو. همدا شان، که سید اکبر خان په پاکستان کې لا تر اوسه غندل کیږي، نو بیا په افغانستان کې د یوه داسې اتل او شهید په توګه لمانځل کیږي، چا چې د یوه افغان او پښتون په توګه د خپل هیواد او قام سپکاوی زغملې نه شو،او له همدې امله یې د پاکستان صدراعظم وواژه. 9

8 . غروال، محمد عارف، د غازیانو او اتلانو یاد کتاب، ۱۷۷ مخ.

9 . زه د سید اکبر خان د زوې ښاغلي فاروق ببرکزي سره هم نظره یم چې د هغه د پلار دا حرکت د کمپني باغ په غونډه کې د لیاقت علیخان د بدې ژبې او افغانانو او پښتنو په هکله د ناوړو الفاظو د استعمال په وړاندې یو ناڅاپي او سملاسي غبرګون نه ؤ، او دا یوه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## د ببرک خان ځدراڼ د کورنۍ دریځ

په عمومي توګه د غازي ببرک خان کورنۍ دا خبره مني چې لیاقت علي خان د سید اکبر خان د تومانچې په ډزو ووژل شو. د سید اکبر خان زامن هم په دې خبره کې کوم شک نه لري. خو تر کومه ځایه چې دغه قلم ته معلومه شوې، نو یوازې د سید اکبر خان یو ورور، (په اغلب ګمان وکیل شیر محمد خان) په دې هکله د نظر اختلاف درلود. په ۱۹۷۶ کال کې د غازي ببرک خان د یوه زوي سره د مرکې په حواله، امریکایي څیړونکي، مؤرخ او د کابل په سفارت کې پخواني دیپلومات، لیون پولادا لیکلي چې « د متهم وژونکي، د ببرک کورنۍ، په کلکه ویلي چې هغه د اصلي وژونکو د پټولو په مقصد وژل شوی دئ.10

تر کومه ځایه چې د وژنې په انګیزې پورې تړاو لري ، نو د دغه کورنۍ دریځ دا دئ چې سید اکبر خان دا کار د چا په لمسون نه، بلکې د خپل هیواد افغانستان سره یې د زیاتې مینې له امله د یوه شخصي عمل په توګه تر سره کړې دئ.

د کشمیر د جګړې مسئله هم د پام وړ ده، ځکه چې په دې جګړه کې زیاتره پښتانه ، چې وزیر او ځدراڼ هم پکې شامل وو ، مړه شول او دا ګټلې جنګ، یا خو د اردو ژبې لاپ اخبار په حواله د پیسو په بدل کې و بایلل شو، او یا هم د همدې کال د سپتمبر په میاشت کې لیاقت علي خان د صوبه سرحد په سیمه کې د پښتنو د احتمالي پاڅون د ویرې له امله په کشمیر باندې پوځي یرغل بند کړ.

شاید د نورو ډیرو سیاسي وژنو په څیر د لیاقت علي خان د وژلو انګیزه هم د اسې یوه معما پاتې شي. دلته د ارواښاد زمرک خان ببرکزي خبره رایادیږي چې د خپل ورور، سید اکبرخان، د مړي د پیژندلو په وخت کې یې په پنډۍ کې د یوه لوړ پوړي پولیس د هغې پوښتنې په ځواب کې کړې وه چې ده ولې لیاقت علي خان شهید کړ؟ **او زمرک خان ورته په ځواب کې ویلي و چې «سید اکبر خان به مو نه واژه او دا پوښتنه به مو له هغه نه کړې وای، زه پرې څه خبر یم».**

(پای)

---

خورا ساده نظریه او له واقعیت څخه لرې د هغو کسانو نظر دئ کوم چې د دواړو هیوادونو په تاریخ شه نه پوهیږي . هیله ده چې ښاغلي فاروق ببرکزي هم وکړای شي په نږدې راتلونکې کې خپل راټول شوي اسناد نشر ته وسپاري .

10 . پولادا، لیون (۲۰۰۶)، کشور شاهی افغانستان و ایالات متحده، ۳۳۱ مخ، ۲۳مه شمیره رفرنس .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ